سلام خان ۲۰۱۳/۰۳/۰۲

# د پاکستان د علماوو فتوا شرعي بنه نه لري



افغانستان د عالمانو او سولي عالي شورا چارواکي وايي، چي د اسلامي نړۍ د عالمانو، مخکښو ملايانو او مفتيانو نړيوال کنفرانس کيدای سي په سعودي عرستان کي جوړ سي. افغان دولت له دغي غونډي تمه لري چي د علماوو له خولي د ځانمرګو بريدونو د ممنوعيت او همدا راز د طالبانو د رواني جګړي پر ضد فتواوي صادري کړي.
د افغانستان د سولي عالي شورا د بهرنيو اړيکو د جرګه ګی مشر اسماعيل قاسم يارد (۲۰۱۳ کال د فيبرورۍ ۲۸) په کابل کي خبريالانو ته وويل چي د اسلامي ملکونو د همکارۍ شورا او همدا راز اسلامي کنفرانس له دوی سره د دغي غونډي د جوړولو د مرستي ژمنه کړې ده، افغانستان څو واري هڅه کړې ده چي د ځانمرګو بريدونو او د خپل نظام پر ضد د ياغيانو د يرغلونو د مخنيوي له پاره له نړيوالو اسلامي عالمانو او ديني مشرانو ګټه واخلي.
خو څه موده دمخه د پاکستان عالمانو يو وار بيا د افغان دولت دغه غوښتنه و نه منله. د پاکستاني د علماوو مشر په يوه ليک کي هغه غونډه چي په کابل کي جوړيدونکي وه تحريم کړه.
د پاکستان د ديني عالمانو شورا مشر ويلی دی چي په افغانستان، فلسطين او کشمير کي ځانمرګي بريدونو جواز لري او دوی څکه د پاک - افغان ديني عالمانو له ګډ کنفرانس سره پريکون کړی، چي په کنفرانس کي طالبانو ته بلنه نه ده ورکړل شوي. ده همدارز وويلی دی چي په کنفرانس کي د نه ګډون يو بل لامل دا دی چي د دواړو هيوادونو له ديني عالمانو سره د افغانستان د مسألي په اړه کوم ځانګړی د حل لاره نشته. د پاکستان د علماوو شورا رييس مولوي طاهر اشرفي په افغانستان، فلسطين او کشمير کي ځانمرګو بريدونو ته په دی خاطر جواز ورکړی دی چي نوموړی ويلی دی، چي افغانستان، فلسطين او کشمير د امريکا، اسراييلو او هندوستان له خوا اشغال شوي، نو له همدې امله په دغو هيوادونو کي ځانمرګي بريدونه روا دي هغه همدارنګه په خپلو تازه څرګندونو کي دا هم ويلي دی، چي د پاکستان د علماوو شورا به هېڅکله هم د طالبانو پر ضد ديني فتوا صادره نه کړي؛ څکه چي په افغانستان کي د هغوی ځانمرګي بريدونه ديني جواز لري، د بله لوری اشرفي په پاکستان کي ځانمرګي بريدونه او د هزاره ګانو په نښه کول غندلي او وايي، په پاکستان کي د ځانمرګو بريدونو دليل له امريکا سره د پاکستان همکاري، خو په افغانستان کي د امريکايي ځواکونو له خوا د دغه هيواد "اشغال" دی.دا په داسي حال کي ده، چي د سعودي عربستان سترمفتي شيخ عبدالعزيز بن عبدالله سږ کال د لوی اختر په مراسمو کي ځانمرګي بريدونه حرام وبلل او اعلان يي وکړ، چي د دغو بريدونو عاملان به د سخت عذاب مستحق وي، تر ابده به د دوزخ په اور کي سوځي او توبه يي هم نه قبليږي.
د افغانستان د علماوو شورا او د چارو ځيني شنونکي د پاکستان د علماوو شورا د رييس دا څرګندوني، چي په افغانستان کي ځانمرګي بريدونه روا دي، په کلکه ردوي او دا يوه استخباراتي فتوا ګڼي او وايي چي دپاکستان دعلماوو دشورا دريس فتوا شرعی بنه نه لری، دغه فتوا د قران او سنتو له مخي کوم اصل او بنسټ نلري، بلکي سياسي او استخباراتي تبليغ او هڅوني دي، چي هېڅ ستونزه وربانديي نه يواځي هوارېدای نه شي، بلکي د مسلمانانو په منځ کي لا نوري ستونزي او فتني هم راولاړوي، د سرچيني په وينا: له بده مرغه پاکستاني لوري د قران کريم او نبوي احاديثو د قطعي نصوصو په خلاف ويلي، چي په پاکستان کي ځانمرګي ناروا او په افغانستان کي جايز دي دا په داسي حال کي ده، چي په افغانستان کي ديني شعاير پرځای او په محاکمو کي د اسلامي شريعت پربنسټ پرېکړې کيږي او اساسي قانون هم په دې صراحت لري، د اساسي قانون په دريمه ماده کي راغلي: په افغانستان کي هېڅ قانون نه شي کولی چي د اسلام د سپېڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي خو د سرچيني په وينا، په پاکستان کي د نفاذ شريعت لپاره ناکامي چيغي پورته کيږي، چي تراوسه يي دا هيله نه ده ترسره شوې، د ځانمرګو بريدونو په اړه شرعي نصوص شتون نه لري، ان په اسلام کي انسانانو ته اجازه نه شته چي ځانوژنه وکړي؛ نو په دې اساس ځانمرګي بريدونه هم ځانوژنه ده او په اسلام کي جواز نه لري، خدای تعالی په قرانکريم کي په صراحت سره فرمايلي دي، چي ځانوژنه مه کوئ، د پيغمبر صلی الله عليه وسلم په احاديثو کي هم راغلی دي، چي: هر چا چي خپل نفس په څه سره وواژه، د قيامت په ورځ به هماغسي جزا ورکول کيږي او په هماغه ډول به د قيامت په ورځ هم وژل کيږي، د افغانستان د علماوو شورا په خپل بيان کی ويلی دی چي: دپاکستان د عالمانو شورا دغه وينا، چي په دې وروستيو کي يي کړې او په افغانستان کي يي ځانمرګي بريدونه روا بللي، يوه ديني مسئله نه، بلکي يوه استخباراتي فتوا ده هغه په دی خاطر چي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

داسلام سپيڅلي دين يواځې پاکستان او ياهم يوې ځانګړې قبيلي ته نه دی راغلی په پاکستان کې هم داسي عالمان شته، چي ځانمرګي بريدونه حرام ګڼي؛ ځکه چي په افغانستان کې په ځانمرګو بريدونو کې ډېرې ملکي وګړي، ديني عالمان او ملا امامان وژل کېږي.

په عين وخت کی د پاکستان د نيوز ورځپاڼې د راپور له مخې دغه هيواد د لومړي ځل لپاره رسماً اعلان وکړ چي په افغانستان کې يې له خپلو تېرو تېروتنو زده کړه کړې او نورو هيوادونو ته خبرداری ورکوي چي د پاکستان تېروتنې تکرار نه کړي د جرمني لپاره د پاکستان سفير په هغه غونډه کي چي د جرمني د يوه تېنک ټنک (فکري بنسټ) له خوا جوړه شوې وه او د جرمني د پارلمان غړو او د بهرنيو چارو وزارت کارکوونکو ګډون په کې کړی وو، وويل چي پاکستان د افغانستان په اړه سهوې کړې دي او اوس يې له دغو اشتباهاتو څخه زده کړه کړې ده. پاکستاني سفير **عبدالباسط** نورو هېوادونو ته هم خبرداری ورکړ، چي کله افغانستان ته ځي د دوی اشتباهات تکرار نه کړي. ده وويل چي پاکستان ته د افغانستان له بې ثباتې څخه ډېر زيانونه اوښتي او تر څو چي په افغانستان کي ثبات نه وي راغلی، دوی نه شي کولای خپلې کورنۍ ستونزې حل کړي. **عبدالباسط** ټينګار وکړ، چي پاکستان اوس په افغانستان کي د سولي او پخلاينې پروسې ته ژمن دی په جرمني کي د پاکستان سفير عبدالباسط وويل لازمه ده چي نور هيوادونه د پاکستان له تېروتنو څخه الهام واخلي او په افغانستان کي سولې او ثبات ته ځانونه ژمن کړي.

په دې غونډه کې د جرمني د بهرنيو چارو وزارت، پارلمان او د سوسيال ديموکرات ګوند ګڼو غړيو او دغه راز د جرمني يو شمېر کارپوهانو ګډون کړی وو په جرمني کي د پاکستان سفير همداراز وويل: پاکستان د افغانستان د بې ثباتۍ له کبله له کړاوونو سره مخامخ دی او تر څو چي په افغانستان کي حالات سم شوي نه وي د پاکستان ستونزې به دوام لري او پاکستان ته به ګرانه وي چي په مختلفو برخو کي خپلې کورنۍ ستونزې کنټرول کړي ده ويلی دی چي پاکستان له همدې کبله دځرګند هدف لپاره په افغانستان کی دسولی دپروسی ملا تړ کوی. عبدالباسط دا هم ويلی دی چي يکار ده نور ذي نفوذې خواوې هم په افغانستان کي د سولي او ثبات په برخه کي د پاکستان په شان څرګند دريځ او ژمني ولري په برلين کي د پاکستان سفير په اخر کی په دی ټينګار کړی دی چي بايد په هر حالت کي په افغانستان کي د ۱۹۸۹ کال د حالاتو د تکرارېدو مخه ونيول شي **د افغانستان او پاکستان په اړه په جرمني کي د سوسيال ديموکرات ګوند او د دغه هيواد د پارلمان د يو شمېر غړيو په غونډه کي د پاکستان استازي ومنله چي هيواد يې په افغانستان کي تېروتني کړي او نور نه غواړي چي تېرې تېروتني تکرار کړي.**

**پای**



افغان جرمن آنلاين په درښت ناسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ